# دیوالی بلنه

د ټولنی له هر اړخه فریادونه را جګیږی
د غلیم راکټونه د افغان په سر لګیږی
څوک د کوره وتی نشی دمرمیو جوړ باران دی
آ سمان هم یاغی شوی تندرونه را وریږی
مور د ځوی په مړی ژاړی پر سر خاوری بادوی
ړوند راکټ هر خوا لګیږی د کابل ښار ورانیږی
دغلیم په ستراتیژی کی ورانی د کابل ښار دی
دا فتوا د پنجابیان دی  چی کابل را ورانیږی
مذهبی ډلی ټیلی پنجابیان سره په ګډه
د افغان له هره کوره قیمتی شیان لوټیږی
په لم سون د پنجابیانو وطن ویران کړل مجاهد
دا مچ سترګی جهادیان هیڅ له خلکو نه شرمیږی
دوطن دبر بادی پړی اچوی په نورو
د ناراض خلکو له ډاره د غلیم تر شا پټیږی
دپردو د مټ په زور دقدرت په چوکی ناست دی
هر ورځ  چی تیریږی لکه ایږه را پرسیږی
اوس هم خلک ټول نارام دی د پردو له لښکریانو
په بی وزلو  له آ سمانه غټ بمونه را غور ځیږی
چیری یی روشنفکره غږ دی هیڅ نه اوریدل کیږی
دوطن د خواریکښو سترګی ستا خواته غړیږی
خپل صفونه رانژدی کړی ځانځانی نه لاس په سر شی
له دی وضع ستا سو خلک هره ورځ ډیر ځوریږی
د وطن اصیل بچیانو ای کیڼ اړخو لارویانو
سره ټول په یو پارټی شی وخت په بیړه زر تیریږی
خود خواهی ښخه تیر شیی جزایرو نه بهر شیی
ځانځانی او تیت و پیت کی له یو سره ورک کیږی

د تاریخ ځواب مو څه وی که فر صت دلاسه ورکړی
سر مو ښکته په گریوان کړی ستاسو خلک ډیر ځوریږی
پرونی یوو ، تول ملگری یو دبل سره آ شنا
نوی ، نوی ، آ شنایان گوری هیڅ نه په کاریږی
چی په سختو ورځو تا سره وهلی وی مزل
هغه ستا دلاری مل دی له تا هیڅ نه بیلیږی
ځان دی مه غلوه یو ځلی سترگی دی را خلاص کړه
لوی متل دی نوک له غوښی هیڅکله نه بیلیږی
گړندی شی دوحدت لاسونه ور کړی یو تر بل
د شهد  ملگرو غږ له قبرونو هردم خیژی
بیرقونه  یی رپیږی په لوړ غږ وایی ملگرو
ارمانونه مو پوره کړی له هدف مه په شا کیږی
زه (مل) تاسو ته بلنه د یوالی درکومه
په یووالی سره گوند مو په قوی ځواک بدلیږی
***************

جون ۲۷ کال ۲۰۰۷ جرمنی
پوهندوی دکتورسید حسام مل